Download from:aghalibrary.cm

# د واده ګټې

طب ,ژوندود ,د ښځمنو حقوق :جولای 18, 2019در :اندیالدر : توسط
بریښنلیک چاپ

**بِسْمِ اللهِّ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم**

## د واده ګټې

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَى مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللهُ مِن فَضْلِهِ وَاللهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (نور/۳۲) = او تاسي خپل ناواده کړي ځوانان او پېغلې،نېك مريان او وينځي (يو بل ته) په نكاح کړئ .كه دوى تنګلاسي وي؛ نو الله به يې پرخپلې مهرباني شتمن کړي او الله پوه پراختيا راوستونکی دی .

ټکي :

(( ايامى )) د (( ايم )) په وزن د (( ايم )) جمع ده او هغه ته وايي، چې همسر نه لري؛ كه سړى وي او كه ښځه؛ كه باكره وي كه كونډه .

د واده لپاره واسطه كېدل تر ټولو غوره واسطه ده. روايت دى : څوک چې چا ته واده وكړي؛نو د خداى د عرش تر سيورې لاندې به وي . (تفسير نورالثقلين )

هغه مور و پلار، چې امكانات لري او اولاد ته واده نه كوي؛نو كه اولاد ګناه وكړه؛نو مور و پلار پكې شريک دي . ( تفسير مجمع البيان )

### واده په اسلام كې

اسلام واده سپېڅلى ګڼي؛خو مسيحيت واده نه كول سپېڅلى ګڼي؛نو ځكه پاپ او مسيحي مُلايان واده نه كوي او د مسيحيانو د واده جواز يوازې له فساده د ژغورولو لپاره دي .

د واده په هكله روايتونه :

امام صادق (رح) وايي : د ژوند پراختيا په واده كې ده .

روايت دى : پر خداى ايمان نه لري، هغه چې د بېوزلى له وېرې واده نه كوي .

حديث : د واده شوي انسان دوه ركعته د نه واده شوي تر اويا ركعتونو غوره دى . ( تفسير نورالثقلين )

### د واده ګټې

**۱_ انس او ارامش :**

قرآن وايي : وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ( روم/ ۲۱ )= او د هغه له نښو داده، چې تاسي ته يې همدا ستاسي له (جنسه) مېرمني پيداكړې، چې ورسره ارام وموميْ او ستاسي ترمنځ يې مينه او مهرباني پيداكړه. هو، په دې (نعمت) كې هغې ډلې ته نښې دي، چې فكر كوي ))

د بشر یوه اړتیا انس او ارامش دی او یوازېتوب د انسان لپاره ستونزمن دی؛نو یو چا ته اړتیا لري، چې امین او غمخوار یې وي، چې ورسره انس وکړي او خپله مینه ترې په اخلاص ځار کړي او واده هغه څه دی، چې تر ټولو ښه کړای شي دا اړتیا پوره کړي او قرآن هم د واده په دې دومره ګټو کې یوازې همدې اړخ ته اشاره کړې ؛نو ښیي چې تر ټولو مهم اړخ دی .

په عقلي او عصبي ناروغیو کې د MDD Major depression disorders په نامه یوه ناروغي ده، چې په پښتو کې ورته "خپګان" وایي او ددې ناروغۍ عمده علایم دادي، چې د انسان هیڅ څه ان ژوند ته هم ډېره نه لګي، که محصل او زدکړیال وي؛نو د درس د زده کړې کچه یې راټیټېږي، تل خپه وي او له چا ان له نږدې خپلوانو سره د خبرو حوصله نه لري، تل یې زړه غواړي، چې وژاړي او په ځان کې هېښنده یوازېتوب احساسوي، ځان د ژوند وړ نه ګڼي او تل د مړینې په فکر کې وي او په دې ناروغانو کې د پرېکنده ځان وژنې کچه خورا لوړه وي او ډېر داسې نور علایم، چې انسان له پخو غورځوي، چې دلته مهمه خبره داده، چې د عقلي عصبي په تخصصي کتابونو کې یې لیکلي، چې ددې ناروغۍ او همداسې د همدې ناروغۍ او له امله د ځان وژنې کچه په مجردو وګړیو کې خوار لوړه ده او همداسې نن چې په دنیا کې د طب ټولې برخې په دې لټه کې دي، چې د HIV او یا د AIDS د ناروغۍ مخه ونیسي او یا ورته درمل او یا واکسین پیدا کړي؛خو تراوسه یې بری ندی موندلی او د یادونې خبره خو داده، چې ان د نړۍ په ډېرو پر مخ تللیو هېوادونو کې هم د ایډز د ناروغۍ درمل ناشونی او د ایډز پر ناروغۍککړ انسانان ان د یو وړوکي زکام د ټینګې هم ندي او دلیل یې دادی،چې د HIV وایرس د انسان د مسلحو قواوو لوی درستیز؛یعني CD4 کمزوری کوي، چې له بدنه د دفاع وس اخلي او همداسې د نړۍ پر مخ تللي هېوادونه او هم WHO د ایډز د ناروغۍ په هکله خورا اندېښمن دي او که له دې لاعلاجه ناروغۍ د ځان ژغورولو لپاره کوم کتاب او مقاله ه هم که ګورې او لولې ؛نو په سر کې یې ورته لیکلي وي، چې په جدي توګه ځان له نامشروعه جنسي اړیکو وساتئ او د یو ډاکټر یه صفت زما WHO او همداسې د خپل هېواد د عامې روغتیا وزارت ته مې وړاندیز دی، چې په خپله پوهېږئ، چې د ایډز د ناروغۍ د لېرد د مخنیوي علمي لار (( و لا تقربوا الزنا )) ( اسراء /۳۲) ده او بیا پخپله WHO د اسلام د دین دا شعار چې (( پاکوالی نیم ایمان دی )) پخپله ژبه داسې ورکوي : Prevention is better then treatment؛نو ولې په خپل شعار عمل نه کوي او د ایډز له ناروغۍ په بنسټیزه توګه (( و لا تقربوا الزنا )) مخنیوی نه کوي. په نړۍ که هر کال د ایډز نړیواله ورځ نماځل کېږي او تبلیغاتو ته یې خورا بودجه هم لګول کېږي،چې تر اوسه دې تبلیغاتو هېڅ اغېز نه دی کړی؛ځکه دا هر څه یوازې تبلیغاتي او پروژه ای اړخ لري،چې اړوند چارواکي پرې خپل جېبونه ډکوي؛ګڼې که واقعاً یې غوښتل،چې ددې نړیوال صحي ناورین پر وړاندې اغېزمن ګامونه پورته شي؛نوWHO دې د اسلام صحي قوانینو ته پر ګونډو شي او له دې احکامو دې منشور جوړ کړي؛ګڼې هڅې شعارونه دې نه ورکوي او په لویدیځ کې پخپله هم خورا ډاکټران او ان د WHO مسوولین پوهېږي،چې د ایډز د کنټرول اصلي خبره په کوم ځای کې ده؛خو هسې د اسلام پر وړاندې بېځایه تعصب راخستي او په زغرده دا نه اعلانوي،چې د روغتیا لپاره تر ټولو غوره مخنیونکي قوانین اسلامي قوانین دي؛له WHO به تېر شو؛ځکه خپل مو نه دي؛خو د هېواد عامې روغتیا ته حیران یم،چې له ایډزه د مخنیوي په پار د لویدیځوالو د تبلیغاتو پیښې کوي او په خواشینی،چې نوموړي وزارت په خپلو تبلیغاتو کې یو ځل هم له قرآني آیته او نبوي حدیثه ګټنه و نه کړه؛ولې؟؛ځکه د هېواد واکمن نظام مو "اسلامي جمهوري" دی؛ خو چارواکي یې ان د اسلام له لومړنیو آرونو هم بې خبره دي او په دې خو ټول پوهېږي،چې په صحي او هره کړلار جوړولو کې تر ټولو مهم آر د هماغې ټولنې؛ټولنپوهنه ده او دوی باید پوه شي،چې د افغانستان ټولنه یوه دیني ټولنه ده او که چارواکي غواړي دې ملت ته هره کړلار جوړه کړي؛نو تر ټولو غوره کړلار ورته دیني کړلار ده او د عامې روغتیا وزارت دې د ناروغیو په مخنیوي کې له قرآني آیتونو او نبوي حدیثونو ګټنه وکړي او ددې چار لپاره پکار دي،چې زموږ د هېواد هر وزارت؛په تېره بیا د عامې روغتیا وزارت،د واقعي دیني عالمانو سلاکاران ولري،چې په دې چارو کې یې لاسنیوی وکړي.

را به شو د عقلي عصبي ناروغیو برخې ته؛ قرآن مجردي ژوند نه خوښوي او تاسې پخپله په پورتني آیت کې ولوستل، چې قرآن د واده د انس او ارامش اړخ ته اشاره وکړه او زه باید تاسې ته ووایم، چې په همدې مجردو کسانو کې، چې د انس لپاره څوک نه لري او ورپسې د خپګان ښکار کېږي، تر ټولو ډېر د مخدره توکیو استعمال ته مخه کوي، چې ورپسې خپله کیسه لري، چې تاسې ټول پرې تر ما ښه خبر یاست؛نو بیا هم د یو وګړي په صفت زما وړاندیز د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې وزارت ته دادی، چې په ټولنه کې د اعتیاد=روږد د مخنیوي لپاره پر بنسټیزه (( اسلامي کړنلار )) کار وشي او هغه دا چې په هېواد کې د مجردو کسانو کچه راټیټه شي او د ځوانانو له ودونو په دولتی او لوړه بېن المللي کچه ملا تړ وشي او په دیني ښوونو پر مخدره توکیو له روږدېدو مخنیوی وکړي؛نه په لویدیځو کړلارو؛ځکه په لویدیځې ټولنه کې پخپله دومره اخلاقي فسادونه او په مخدره توکیو روږد وګړي او ځان وژنې دي،چې ورته د هواري لار نه لري او دلیل یې هم دادی،چې ځانونه تر خدایه هوښیار ګڼي او د الهي قوانینو پر ځای یې خپل جوړ کړي قوانین وضع کړي

**۲ـ له ګناه ژغورنه :**

رسول الله : واده نيم دين ساتي . ( کافي ۳۲۸/۵)

نبوي حديث : څوک چې غواړي د قيامت پر ورځ خدای په داسې حال ملاقات کړي، چې پاک وي؛نو واده دې وکړي . ( النوادر راوندي ،۱۲ مخ )

**۳_ د بدن او روح روغتيا :**

ساينس پوهان وايي چې په واده ځان ارضا کول له ډېرو روحي ناروغيو مخنيوی کوي .

**٤_ د نسل بقا :**

د انسان د نسل د بقا اصلي لار واده دی او په اسلام کې د اولاد روزنه د مور و پلار دنده ده، چې د قيامت پر ورځ يې پوښتنه هم کېږي .

**٥_ خپلواکي :**

تر واده مخکې هلک او انجلۍ دواړه د نورو لاس ته ناست وي؛خو چې واده وکړي؛نو ان ډېر لټان هم په خپله د خپل خرڅ په فکر کې شي .

**٦_د ټولنې امنيت:**

په ټولنه کې هر راز جرمونه هغه کسان کوي، چې د کورنۍ له نعمته بې بې برخې وي .

واده د يوې ورځ کار نه دی؛ د ټول عمر کار دی؛نو په واده کولو کې ډېر پام پکار دی :

امام صادق وايي : ښځه د غاړکۍ مثال لري، چې په غاړه کې يې اچوې؛نو پام دې اوسه .

د واده په کولو کې له احساساتو کار مه اخلئ، په سړه سينه او په دې اړه د تجربې له خاوندانو سره تر سلا مشورې وروسته واده وکړئ اود ډېرو کورني اړپيچونه جرړه د يو بل او کورنيو نه پيژندل او په يو ځل کتو ميينېدل دي .

**د ښه مېړه يا ښځې ځانګړنې**

دين او ايمان :

الف :قرآن وايي :

وَلاَ تَنكِحُواْ الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلاَ تُنكِحُواْ الْمُشِرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُوْلَـئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللّهُ يَدْعُوَ إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ( بقره :۲۲۱)= او مشرکانې تر ايمان راوړو مه راودوئ (که څه بې له وينځوو سره له واده کولو مو لاس رسي؛ ځکه) مؤمنه وينځه تر (ازادې) مشرکې غوره ده،که څه (ښکلا، شتمني او مقام يې) ستاسې خوښ وي او مؤمنې ښځې مشرکانو ته تر ايمان راوړو مه ورکوئ (؛خو که اړ شوئ؛مؤمنو مريانو ته يې ورنکاح کړئ؛ ځکه) مسلمان مريی تر ازاد مشرکه ښه دی .که څه (مال،ښکلا او شتمني يې) ستاسې خوښه وي، دوی مو اور ته وربولي او الله په خپل فرمان تاسې د جنت او ښښنې لوري ته رابولي او الله خلکو ته خپل حکمونه په ډاګه څرګندوي، چې پند واخلي.

ب: امام صادق (رح) وايي : که څوک له يوې انجلۍ سره د ښکلا او شتمنۍ له امله واده وکړي؛نو يوازې هماغه به ورکړل شي؛خو که څوک د خدای لپاره واده وکړي؛نو مال او جمال به هم ورکړل شي.

( کافي ۳۳۳/۵ )

**ښه اخلاق :**

له امام رضا (رح) يو سړي مشوره وغوښته، چي له يوې داسي انجلۍ سره د واده هوډ لرم، چي ښکلې ده؛خو ښه خوی نه لري، چي امام په ځواب کې ورته وويل چي واده ورسره مه کوه . ( کافي ۵٦۳/۵)

ښه اخلاق د ژوند خوږلنی او د کورنی د پرمختګ لامل دی .

**۳_ کورنۍ او اصالت :**

نبوي حديث : خلکو ! پر ډېران له شنو ګلانو ځان وساتئ . خلکو وپوښته: مراد مو څه دی ؟ و يې ويل : ښکلې ښځې،چي اخلاق نه لري.

(کافي ۳۳۲/۵ )

**٤_ زده کړه:**

پو هه د انسان لپاره کمال او د ښځې لپاره مزيت دی . له لوستي انسان سره ژر تفاهم ته رسېدای شو او د راتلونکي ژوند لپاره کړلار جوړولای شو . البته هره لوستي د تدبير خاونده نه وي .

**۵_ روغتيا :**

روغتيا ستر الهي نعمت دی، چې د ښځې لپاره مزيت دی .

روايت دی : له هغوی سره واده مه کوئ، چې ساري ناروغی لري .

**٦_ عمر يې سره انډول وي :**

د انسان حالات د عمر په بېلابېلو برخو کې توپير لري او جنسي تمايلات هم په هر عمر کې يو شان نه وي؛نو د ښځې او مېړه ترمنځ د عمر ډېر اختلاف د ډېرو ستونزو سرچنيه ده .

**مهر :**

۱_ سړی د خپل صداقت د جوتولو لپاره ښځې مهر ته ورکوي؛نو ځکه ورته صادق وايي او په ژوند، تر طلاق وروسته او د مېړه تر مړيني وروسته د ښځې ملاتړ دی .

۲_ په اسلام کې د مهر کچه نه ده ټاکل شوې؛خو دروند مهر يې رټلی او وايي، چې درون مهر کينه اودښمني راوړي

( مکارم الاخلاق :۲۳۷ مخ )

۳_ سړي ته پکار دي، چې ژر تر ژره خپلې مېرمن ته مهر ورکړي .

٤_ ښځه د مهر مالکه ده او څه یې، چې پرې خوښه کړای یې شي .

٥_ روایتونه هغه سړي ته غل او زناکار وایي، چې د مهر د نه ورکولو نیت ولري .

( وسایل ۱۵ /۲۱)

**جهېز:**

۱_ مېړه نه شرعي او نه قانوني حق لري، چې د جهېز غوښتنه وکړي؛ که څه هم دود دی، چې جهېز د ناوې له اړخه راوړل کېږي .

۲_ جهېز ددې ځوانانو د هوسا لپاره دی؛ نه ویاړ پلورۍ او ځان ښوونې ته .

**د پیغمبر اکرم (ص) د لور بي بي فاطمې جهېز**

یو کمیس، یو سپټی، یو ځانپاک، دوه توشکونه، د کجورو له پاڼو د خوب کټ، څلوربالښتونه، یو پوزی، یوه لاسي مېچنه، یوه مسي کاسه، یو د څرمني مشک، د کالو پرېمنځولو تشت، د شیدو یوه کاسه، د اوبو ځښـلو یو لوښی، یوه پرده، یو لوټه، یوه کوزه، د فرش لپاره یو پوټکی، دوه د ختو کوزې او یوه عبا .

**د واده او ولیمې مراسم :**

اسلام سپارښتنه کوي، چې د وداده مراسم دې د خلکو په شتون کې په خوشحالۍ تر سره شي . پېغمبر اکرم (ص) د بي بي فاطمې واده په جومات کې د مهاجرو او انصارو په شتون کې ترسره کړ او حکم یې وکړ، چې پر راغلیو کسانو کجورې واېشئ . د بي بي فاطمې د واده پر مهال رسول الله مبارک خپلو مېرمنو ته وویل : فاطمه سینګار کړئ، ښه بوی پرې ولګوئ او کوټه یې جوړه کړئ، چې د مېړه کور ته یې ولېږو. ( بحار ٤٣ /۱۳۱)

او همدارز د مهاجرو او انصارو ښځو ته یې وویل، چې فاطمه د خپل مېړه کور ته په خوشحالۍ ورسوئ؛ خو پام مو اوسه، چې داسې څه و نه ویاست چې خدای درځینې خپه شي.

پیغامونه :

۱_ کورنۍ او ټولنه دنده لري، چې بې واده خلکو ته واده وکړي . ( وَأَنكِحُوا)

۲_ په اسلام کې واده سپېڅلی او پرې ټینګار شوی دی . ( وَأَنكِحُوا )

۳_ یوازې نامحرم ته نه کتل بسیا نه دي؛بلکې ځوانان باید واده هم وکړي . ( وَأَنكِحُوا)

٤_ کونډو ښځو ته مرونه وکړئ . ( وَأَنكِحُوا الأَيَامَى ) ( په (( ایامی)) کې هغوی هم شاملېږي .

٥_ د صلاحیت درلودل د واده شرط دی . ( وَالصَّالِحِينَ )؛یعني دواړه اړخونه بایدد ګډ ژوند د اداره کولو صلاحیت ولري .

٦_ بېوزلي باید د واده نه کولو لامل نشي . ( إن يَكُونُوا فُقَرَاء ....)

۷_ که بېوزله یاست؛نو پر خدای توکل او واده وکړئ . ( يُغْنِهِمُ اللَّهُ )

۸_ خدای ژمنه کړې، چې د ناوې او زلمي د ژوند ساتنه به کوي . واده ژوند ته پراختیا او برکت ورکوي . ( فَضْلِهِ – وَاسِعٌ
)